پرمختیا اوونیزه
د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت
هیله بخښونکي خبرونه!
۱۲۳ مه گڼه | پنجشنبه | د کب ۲۲ مه | ۱۳۹۸

# د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت کې د نیالگیو کینولو د ملي ورځې نمانځنه



۳

## په ننگرهار کې د یوه روغتیایي مرکز لپاره د ودانۍ جوړېدو چارې بشپړې شوې



۴

## په پنجشیر کې د ۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۱.۱٤ کیلو متره سړک جوړولو کار پیل شو



۲

## د مېرمنو د نړیوالې اونۍ د نمانځنې په مناسبت نندارتون کې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروگرام دگټه اخیستونکو گډون



۳

## په سرپل کې د برېښنا یوه شبکه تمدید شوه



۲



## په پنجشیر کې د ۲ میلیونو افغانیو په ارزښت د ۹۲ متره محافظوي دیوال جوړولو کار پیل شو

۱۷/ کب/ ۱۳۹۸

دکلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام له لوري د پنجشیر د شتل ولسوالی په ده کلان کلي کې د ۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۹۲ متره محافظوي دیوال جوړولو کار پیل شو دا دیوال ۴.۵ متره لوړوالي لري.

دیوال به په دریو میاشتو کې جوړ شي او په بشپړتیا سره به یې د ولس د خلکو کرنیزې ځمکې د سیلاب له ګواښه خوندي شي.

## په سرپل کې د برېښنا یوه شبکه تمدید شوه

۲۱/ کب/ ۱۳۹۸

دکلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام تر سیوري لاندې د سرپل ولایت د مرکز په اونګوت اوزبیکیه کلي کې د برېښنا د یوې شبکې کار بشپړ شو.

د ستنو او د برېښنا د مزو تمدید او د ۲۵۰ کیلو ولټو امپیر په ظرفیت یو ترانسفارمر لګول د دې شبکې برخې وې چې په بشپړتیا سره یې ۲۵۰ کورنۍ له برېښنا برخمنې شوې.



## په پنجشیر کې د ۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۱.۱٤ کیلو متره سړك جوړولو کار پیل شو

۲۰/کب/ ۱۳۹۸

دکلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمیزو پروګرامونو د همغږۍ دفتر له خوا د پنجشیر د رخه ولسوالی په قابضان کلي کې د څه باندې ۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۱.۱۴ متره سړک جوړولو کار پیل شو.

دا پروژه د هند هیواد په مالي مرسته د پنجشیر دکلیو بیا رغونې او پراختیا ریاست په مدیریت پر مخ ځي چې په بشپړېتا سره به یې د سیمې د خلکو ترانسپورتي ستونزې هوارې شي.






## په ننګرهار کې د اوبو رسولو دیوې شبکې کار نږدې پای ته رسیدلی

۱۷/ کب/ ۱۳۹۸

د ننګرهار کلیو بیا رغونې او پراختیا ریاست د انجینري ټیم د مهمندرې ولسوالی هزار ناو سیمه کې د اوبو رسولو دیوې شبکې لیدنه او څارنه وکړه او اړونډې شوراته یې لازمې لاربښوونې او سپارښتنې وکړې.

د اوبو رسولو دغه شبکه دکلیو پراختیا ریاست ترچترلاندې UNICEF په مالي مرسته دکوار موسسې لخوا جوړېږي چې د ۱۲۰ مترو په ژوروالي سره یوه څاه او د ۱۵۰۰۰ لیترو په ظرفیت سره د اوبو یوه ذخیره لري ددې شبکې د جوړېدو چارې په سلو کې ۹۸ بشپړې شوې او ډېر ژر به ګټې اخیستنې ته چمتو شي.

دا شبکه به ۲۸۰ کورنیو ته د څښاک پاکې او صحي اوبه برابرې کړي.

# د مېرمنو د نړیوالې اونۍ د نمانځغونډې په‌مناسبت نندارتون کې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام دګټه اخیستونکو ګډون

۱۳۹۸ – کب – ۱۷

دکلیو بیارغونې او پراختیا وزارت دکلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام د مېرمنو د نړیوالې ورځ په مناسبت دکار، تحصیل او لاسي صنایعو جوړ شوي نندارتون کې، چې د صیام بزنس شرکت له لورې پیل شو ، دګډون په موخه لس تنه ګټه‌اخیستونکې کابل ته راوبللې.

په‌دې نندارتون کې چې د کابل په انترکانټېننټال هوټل کې له ۳۰ څخه د ډېرو دولتي او غېر دولتي بنسټونو په ګډون د مارچ د میاشتې له پنځمې څخه تر اتمې نېټې دوام لري. د هېواد له مختلفو سیمو څخه دکلیو بیارغونې او پراختیا وزارت دکلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام رابلل شویو ښځینه‌ګټه اخیستونکو هم خپل کلیوالي تولیدات ننداري او پلورنې ته وړاندې کړي. یاد نندارتون به په پلازمېنې کابل کې دوه ورځې نور هم روان وي.

د نندارتونونو جوړول دکلیو بیارغونې او پراختیا وزارت دکلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام یو له اساسي فعالیتونو څخه دي.




# د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت کې د نیالګیو کینولو د ملي ورځې نمانځنه

دکلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهندوي مجیب الرحمن کریمي دکب شلمه د نیالګیو کېنولو ملي ورځ چې د هېواد جمهور رییس جلالتماب محمد اشرف له لوري نومول شوې، نن یې د څو نیالیګو په کېنولو سره ونمانځله.

دکلیو بیارغونې او پراختیا وزیر هېوادوالو ته د نیالګیو دکېنولو د ملي ورځې په پیغام کې و ویل، د جاري صدقې ترڅنګ د طبیعت د ښکلا په برخه کې خپل مسوولیت ادا کړئ، نیالګي کېنوئ، پالنه او ساتنې یې وکړئ، چې تاسې او راتلونکي نسل مو په خوندي چاپیریال کې ژوند وکړي.

دکلیو بیارغونې او پراختیا وزیر وایي، چې د وزارت د پرمختیایي پروژو په لس سلنه ونډه کې چې خلک یې لري، پرمختیایي شوراګانې باید د ژوند چاپیریال او سمسورتیا ته پام وکړي، نیالګي باید کېنوي، پالنه او ساتنه یې وکړي، ګنې د پروژو چارې به یې ترسره نه شي.



# په ننگرهار کې د یوه روغتیایي مرکز لپاره د ودانۍ جوړېدو چارې بشپړې شوې

۲۱/ کب/ ۱۳۹۸

د ننگرهار د کلیو بیا رغونې او پراختیا ریاست له لوري د کوټ ولسوالۍ د هیبت خیلو او اسد خیلو په قریه کې د نهمه نیم میلونه افغانیو په لگښت د یوه روغتیایي مرکز لپاره د ودانۍ جوړېدو چارې بشپړې شوې.

دغه روغتیایي مرکز د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییزې پراختیا پروگرام تر سیوري لاندې د مالیې وزارت له بودیجې څخه جوړ شوي دي چې د ناروغانو لپاره ۸ خونې ۴ تشنابونه او د احاطې دیوال لري دې ودانۍ په جوړېدو کې لس سلنه ولسي ونډه هم شامله ده.





**د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي لار جوړولو د ملي پروگرام له لوري د ۵۱ متره اوسپنیز کانکریټي پل او د ۱.۸۶ کیلومتره اتصالي کرېړ سړک جوړولو کار د پنجشیر د خنج ولسوالۍ په اشکشو کلي کې روان دی.**